مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۲/۱۱

د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

دویم ټوک

شپږ اویایمه برخه

فراه

او

د افغانستان سویلي برخې

تصحیحات

ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973

لودویک آدمک

فزیکي بڼې :

د دې سیمې تر ټولو لوړ غرونه (د سمندر له سطحې ۱۰۰۰۰ فیټه لوړ) د باغني په غرنۍ لړۍ کې دي چې د باغني علاقه داري له زمینداور څخه جلا کوي. سیاه بند له تورو ډبرو جوړه یو نغل یا د راټولیدونکو اوبو یوه کاسه ده چې پُشتِ رودِ د ټایمني له سیمې جلا کوي. د دې سیمې تر ټولو لوړه څوکه د «شاه غـــلـــه بابا» په نامـهٔ یادېږي. په پُشتِ رودِ کې څلور اساسي سیندونو بهیږي یا ورڅخه تېرېږي او هلمند ته ورغورځي یعنی: د موسی کلا سیند، د فرهاد سیند، د باغني سیند او د نوزاد سیند. د دغو څلورو واړو سیندونو ترڅنګ یو بل د پام وړ سیند دی چې د «لنډي ناو» په نامـهٔ یادېږي چې د دشتِ خنجک مزار ټولې اوبـهٔ په کې راټولـېږي، همدا شان دوه کوچني سیندونه د موسی کلا په ختیځ کې دي چې هلمند ته ورغورځي او دا د اهمیت وړ سیندونه دي چې د هلمند د ستر سیند په ښی غاړه کې د ګڼ وګړو سیمو او د سیمې د کرنیزو ترانګو د اړتیا اوبـهٔ دغو سیمو ته برابروي.

اقلیم او لوړوالی:

سره له دې چې د دوبي په میاشتو کې د دې سیمې ځیني ولسوالۍ ډېرې تودې وي خو په عام ډول ویلای سو چې اقلیم ئـې صحي اقلیم دی. نوزاد کولای سو د تفریح او آرامۍ ځای وګڼو. دا ځای سوړ دی او که په عامه ژبه ئـې ووایو نو «بلا تشبیه – ژ» یو ډول جنت دی. په باغران کې په ژمي کې درنده واوره کـېږي. په باغني کې چندانې واوره نـهٔ وریږي یا هیڅ هم نـهٔ وریږي. اوبـهٔ ئـې ښې او خوندورې دي او په دې ټولې سیمې کومه ناروغي نـهٔ ده خپره. د اپریل او مې په میاشتو کې د خلکو په منځ کې یو ډول تبه خپرېږي او دا په هغو کسانو کې خپرېږي چې ډېر توت وخوري. د جون او جولای په میاشتو کې کله چې «تفت باد» یا تود باد خپور سي ورسره تبه هم راسي. لوړوالی ئـې توپیر لري، چې له ۱۹۲۰ فیټو په خواجه علي کې تر ۱۰۰۰۰ فیټو پورې په هلمند کې د باغران تر شماله لوړېږي. د بُست کلا ۲۴۹۰ فیټه لوړه ده، ګرشک ۲۸۸۱ فیټه لوړه ده حال دا چې د نوزادو په ولسوالۍ کې لوړوالی ظاهراً تر ۴۰۰۰ فیټو پورې او موسی کلا له ۲۸۰۰ تر ۴۰۰۰ فیټو پورې لوړوالی مومي. پورته د نوزادو په شمال کې ګُرز ۵۵۷۰ فیټه او له باغرانه په استثناء ښایي دا په ټول پُشتِ رودِ کې تر ټولو لوړه د استوګنې سیمه وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سړکونه: د یوسف شریف د راپور پر بنسټ هغه سړکونه چې د شمال له لارې زمینداوراو نوزادو ته راغلي دي ښايي دا سړکونه وي: لومړی: د خونای لاره چې د خونای د کوتل له لارې له سیاه بنده تېرېږي؛ دا لاره په عام ډول ښه لاره ده خو کوتل ئې د اوښانو لپاره سخت دی. دوهم: د باغني لاره د باغني د سیند په اوږدو کې تللې چې د قافلو په تر ټولو ښو لارو کې شمېرل کېږي او دولت یار له زمینداور سره نښلوي. دا شمال لور ته عمومي لاره ده. (خو صاحبداد خان وايي :" د باغني دره د پناه لپاره داسې ځای دی چې تقریباً تسخیر کېدونکی نـهٔ دی. په دواړو ډډو کې غرونه لوړ دی او دَرې ته یوازې یو سړک راغلی او یوازې د سرتیرو لپاره په پښو باندې د تېرېدلو وړ ده.") دریم: د باغران سړک چې د موسی کلا د سیند د اوبو د بهیر تر څنګ پرمخ ځغلي او ډېر تګ راتګ ورباندې کېږي سره له دې چې په ځینو ځایونو کې د اوښانو د کچرو لپاره سخته لاره ده خو په پای کې له دویمې «یعنی د باغران له لارې - ژ » سره یو ځای کېږي. څلورم او پینځم: دوې لارې دې چې تـیوره له زمینداور سره نښلوي. یوه ئې له «چاردر»، «گـَـل آباد» او «آکتوبه / آق توبه» څخه تېرېږي او بیا له لویې لارې سره یو ځای کېږي. دا لاره د قافلو لپاره ځکه عملي نـهٔ ده چې مخې ته ئې یو تنګی راځي، دا تنګی د تـَـیورې د سویل په ۳ مایلی کې دی او له همدې تنګي څخه دا لاره تېرېږي. د غور لویه لاره د نیلي، زرین او علیا له لارې تېرېږي، ورپسې له یوهٔ ټیټ کوتل څخه تېرېږي او د هغـهٔ خوړ په ډډو کې تر هغو ځغلي چې دا خوړ د تجوین له سیند سره یو ځای کېږي. دلته دا لاره ویشل کېږي؛ یوه څانګه ئې د ریګ روان تر کوتله پر مخ تللې او بله ئې ختیځ لور ته کړېږي او د سیند پر غاړو تر خـُشکک پورې ځغلي بیا د آق توبې له کوتله اوړي او ورپسې د آق توبې د سیند په ډډو کې ترهغو پر مخ ځي چې د آق توبې سیند له خاشرودِ سره یو ځای کېږي او له دې ځایه وروسته له تیورې څخه له راغلې لویې لارې سره یو ځای کېږي؛ په دې لویې لارې باندې یو بل سړک هم د ختیځ له لورې راغلی او ورسره یو ځای کېږي چې تر اوسه نـهٔ دی پلټل سوی. ورپسې دا سړک د یوهٔ خوړ په ډډو کې پورته خېږي او بیا «بادام مزار» ته راکوزېږي، بیا د طاهري له کوتله اوړي او بیا همداسې تر مُرغابي پورې ځي. دلته په مرغابي کې دا سړک بیا ویشل کېږي: یوه څانګه ئې لویدیځ ته ګرز ته ځي او ورپسې د ریګ روان له سړک سره یو ځای کېږي، او بیا تیزني ته رسېږي او په دې ډول له اساسي څانګې سره یوه کړۍ جوړوي چې د سرخ بیدک له لارې تیزني ته ځي. له تیزني څخه دا سړک بله څانګه د سویل لویدیځ لورته بیلوي چې دا څانګه د بَرنوزاد له لارې تر خاشرودِ پورې ځي. دا سړک تر بَر نوزدادو پورې آسانه دی خو د راپورونه وايي چې د دې ځای لویدیځ ته د سیاه بند غرونه سخت دي. د تیزني او موسی کلا تر منځ څو داني خلاص یا پرانیستې سړکونه سته چې په اوږدو کې ئې یوازینی خنډ د موسی کلا سیند دی. معمولاً خلک د دې سیند او د تیزني دسیند د یو ځای کېدنې په ټکي کې بلې غاړې ته اوړي او یا له دې ځایه کښته دوه نور د اوښتلو ځایونه سته. د موسی کلا د سیند له ښۍ غاړې سره موازې یو بل عام سړک هم سته چې په دې سره له هلمنده د پورې غاړې اوښتلو ډډه کېږي.

یو بل مستقیم سړک له تیزني څخه تر کندهار پورې د قافلو له عام سړک سره یو ځای کېږي، مخکې له دې چې دا سړک له ویل سوي سړک سره یو ځای سي له موسی کلا څخه تېرېږي بیا د سویل ختیځ لور ته پر مخ ځي او د «دریځ» له دښتي اوړي او بیا د کروندو له منځه تېرېږي او تر هغو پورې پر مخ ځي چې په کجکي کې له هلمند څخه پورې غاړه واوړي.

له بر نوزاد څخه یو ډېر آسانه سړک چې تقریباً د نوزاد د سیند په اوږدو کې پر مخ ځي د نوزادو له کلي څخه تېرېږي او او همداسې د نوزادو د ولسوالۍ سویلي دښتې کې پر مخ ځي. له دې سړک څخه له نوازدو لږ پورته د ګرشک سړک خپله څانګه جلا کوي او سویل خوا ته د ښورې لور ته ځي او له دې ځایه یو څانګه مخه د «جسر» د ګودر لور ته اړوي. د ښورې او ګرشک تر منځ سړک مخ خلاصی او آسانه دی خو بې اوبو دی، د لارې په اوږدو کې پراتـهٔ کلي خپلې اوبـهٔ له کاریزونو څخه تر لاسه کوي.

"سړکونه په عام ډول ښـهٔ سړکونه دي ځکه دا سیمه ټوله همواره سیمه ده. باروړونکې ډبې، اوښان، کچرې، غوایان او خرهٔ ټول په دغو لارو ځي او له کومې ستونزې سره نـهٔ مخامخ کـېږي. د هلمند د سیند کیڼې غاړې ته سړک د ګرشک او دهراوټ تر منځ ډېر اعلی سړک دی. "

د علاقې وړ ځایونه:

د باغني له کلا/ حصار پرته بله د پاملرنې وړ کلا نـهٔ سته؛ د ګرشک «قلعـهٔ کهنه» چې د نوشیروان په وخت کې جوړه سوې او د بُست کلا دواړه اوس کنډوالې دي. په ۵۱۱ هجري کال کې د یوهٔ زاړهٔ ښار پاتې شونې وموندل سوې چې د «شهر کهنه» په نامـهٔ یاد سو او دا لا تر اوسه په زمینداور کې سته. د دې کلا شمال ته د امام طحیا[1] زیارت دی چې د امام رضاء ورور دی او زیارت ئې د یوې ډېرې څرګندې نښې په توګه په مشهد کې دی. د ګرشک کلا ته نـېږدې یو ډېر بل مشهور زیارت دی چې د سید تاجدار زیارت نومـېږي.

[1] - Imam Tahya

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

استوګن وګړي:
د دې سیمې استوګن وګړي تقریباً ټول له یوې مخې دُرانیان دي، خو هماغسې چې په ټول افغانستان کې عام دي قومونو په ښـۀ ډول له یو بل سره ګډ سوي دي، په موسی کلا او زمینداور او د زمینداور په اداري واحدونو کې استوګن وګړي تقریباً ټول له یوې مخې علیزي دي. نورزي او اسحاقزي په نوازدو او په ګرمسیل کې برلاسي دي، اسحاقزي په ګاز کلا کې چې د لوی پشت روډ یوه علاقه داري ده، بارکزي او اڅکزي د ګرشک په اداري واحد کې برلاسي دي. د صاحبداد خان د راپور له مخې د پشتِ روډ په سیمې کې د استوګنو وګړو ټولټال شمـېره ۴۳۰۰۰ کورنۍ کېږي چې د دې ترڅنګ ۴۰۰۰۰ مالداران هم په خپلو کـېږدیو کې ژوند کوي؛ دې شمـېرې کې په ډاډ ویلای سو چې یو څـۀ مبالغه سوې ده او خوندي او نسبتاً ډاډمنه شمـېـره به دا وي چې دا شمـېـرې نیمایي وګڼو. خو له دې سره سره صاحبداد د پام وړ شرحه ورکوي او لیست ئـې دلته ضمیمه دی. دا شمـېرې باید د هغوی د ارزښت له مخې اخیستل سوې وای.
مالداران عمدتاً اسحاقزي، نورزي، بلوڅ او مالکي قومونه دي. دوی د مې له میاشتې تر آګست پورې خپل څاروي د تایمنیو په سیمو کې پووندو ته بیایي ځکه هلته ګیاه ډېره ده او اقلیم ئـې سوړ دی. د اپریل او سپتمبر په میاشتو کې دوی د خوځښت په حال کې دي او د اکتوبر او نوامبر په میاشتو کې دوی په زمینداور، نوزادو او موسی کلا کې دېره کېږي. له دسمبر تر مارچ پورې دوی په ګرمسیل کې اوسېږي چې هوا ئـې دومره سړه نـۀ ده او اوبـۀ د ځمکې د کیندنې له لارې تر لاسه کېدای سي.
د زمینداور د تأریخ په هکله ډېر معلومات زموږ په لاس کې نـۀ سته. خو دوی دا شهرت تر لاسه کړی چې د برتانوي واکمنۍ او راج پر وړاندې سخت متعصبه او کلک دښمنان دي. ښایي دوی د هر ډول کنترول او لاسبرۍ پر وړاندې صبر او زغم ونـۀ لري.
کله چې په ۱۸۳۹ز کال کې شاه شجاع پر تخت کښېنول سو د زمینداور له استوګنو وګړو سره په لومړیو کې ژمنه وسوه چې دوی له هر ډول لاسوهنې آزاد دي څوک به ورسره غرض ونـۀ ولري؛ خو په ۱۸۴۱زکال کې د دوی یوې ډلې د شاه شجاع پر سپرو چې څاروان کلا ته د مالیې د راټولولو لپاره راغلي ول بریـد وکړ. له دې کبله د کندهار له ځواک څخه د ضربتي ځواک یوې ډلې ته د تورن فرینګټن تر بولنې لاندې امر وسو چې دوی وځپي، نوموړی له دوی سره د " لنډۍ ناوې" په سیمې کې مخامخ سو چې د هلمند پر غاړه له ګرشک څخه څو مایله پورته ځای دی، دلته دوی د شګلنو غونډیو په منځ کې ټینګ موقعیت نیولی وو او شا ته ئـې یو کانال وو چې له یوې لنډې نښتې وروسته ماته ورکړل سوه او ۶۰ تنه ئـې ووژل سول او د تورن فرینګټن له ډلې څخه دوه تنه افسران ټپیان سول، ۳ سرتیري ئـې ووژل سول او ۱۱ تنه نور سرتیري ټپیان سول.
په ۱۸۴۲ز کال کې د زمینداور خلکو ډېره هڅه وکړه چې ګرشک ونیسي، ځکه دلته د شاه شجاع د سرتیرو د ۱۰۰ تنو هندوستاني سرتیرو یو کوچنی ګارنیزیون وو خو دوی په خپلې دې هڅې کې بریالي نـۀ سول. ګارنیزیون د ټولو بریدونو پر وړاندې مقاومت وکړ او ټول بریدونه ئـې په شا وتمبول خو په پای په کندهار کې د مستقر برتانوي ځواک په مرستې له ګارنیزیونه ووتل او د برتانوي ځواک په مرسته ئـې شاتګ وکړ. په ۱۸۷۹ز کال کې د فبروری په میاشت کې په زمینداور کې د خلکو یوې راټولې سوې ډلې د کـُشکِ نخود په سیمې کې د جنرال بیدولف د ځواک په وروستۍ یا شاتینې محافظتي ګارد برید وکړ او د پام وړ تاوان ئـې ولید. په ۱۸۷۹ز کال کې د زمینداور د علیزیو د پام وړ په مشرانو کې ویل سوي چې دوست محمد خان او نجیب الله خان دي.
علیزي او نورزي باید له سیمه ییز اړخه د هغوی د جنګي کیفیت له اړخه په پام کې ونیول سي، دوی په میوند او کندهار کې د ایوب خان د ځواک د ملا ستن جوړوله. ویل سوي چې په ۱۸۷۹ز کال کې د ایوب خان د پرمختګ پرمهال د یوې اونۍ په ترڅ کې ۲۰۰۰۰ سرتیري راټول سول، هغه مهال دا سیمه د زمینداور په نامـۀ یادېدله چې ظاهراً د معاصر وخت پُشتِ روډ سیمه منفي ګرمسیل ده، ایوب خان دې سیمې ته د ۲۰۰۰ تنو سرتیرو په ملتیا کوچني ځواک سره رسېدلی وو چې عمدتاً د سپرو ځواک وو. د غازیانو بولنه ابوبکر خان ته وسپارل سوه، نوموړي ځان ثابت کړ چې یو وړ او زړور مشر دی. ابوبکر خان د خپلو ټولو هڅو په لړ کې په پای کې په دې وتوانید چې په باغني کې یوه کلا جوړه کړي او د برتانویانو پر وړاندې ئـې ۶۰۰۰ تنه غازیان راټول کړل چې له هلمنده دیخوا راواوړي او د زمینداور له لارې مارش وکړي. ابوبکر په پای کې د مرحوم امیرعبدالرحمن (خان – ژ) قرباني سو او نوموړی ئـې تورکستان ته تبعید کړ او له همدغـۀ ځایه وروسته ورک سو.
دلته په عام ډول خلک په پښتو خبرې کوي خو یو شمـېـر کسان په فارسي هم غږېږي.

جامې او وسلې:
لویه سپینه پګړۍ چې په ډېر ځیر د سر تر کوپړۍ تاو سوي ده د دوی سرجامه ده. اوږد لوی کمیس چې لوی لوی لستوني او لوی لوی پرتوګونه چې سپین، شنـۀ «آبي» رنګونه لري د دوی د جامو ډولونه دي. د دوی بډای او شتمن خلک چوګا یا پوستین اغوندي. ښځې په عام ډول اوږد تور کمیس چې نسبتاً ارت دی او په سرۀ رنګ خامک دوزي او پسولل سوی، تور پرتوګونه اغوندي او سور یا تور پوړنی پر سر راتاووي. دوی سرو زرو او ګاڼو ته ډېرې لـېواله دي او په عام ډول له روپیو جوړ د غاړې هار لري (او په ډېرېو وختونو کې ئـې عمدتاً پر خپل تندي تړي)، او د سرو زرو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بنګړي (کره) په مړوند کې د مړوند ګاڼې په توګه لري. نارینه عموماً توره تر ملا لري (ایرانی یا هم هراتی توري) او د همدغو ځایونو تولیدي توپک هم له ځان سره ګرځوي. د اروپایي تولید توپک عام دود دی او ځکه ئـې شمېـر کال پر کال مخ په ډېرېـدو دی چې د فارس په خلیج کې د وسلو د سوداګرۍ شرایط مخ په ودې دي.

د ودونو دودونه:
دلته د ودونو دود کټ مټ هماغه دودونه دي چې په نورو افغان قومونو کې دود دي، د هلک او نجلۍ د وادۀ کولو کلونه په دې ډول دي چې هلک د ۱۸ – ۲۰ کالو او نجونې د ۱۳ او ۱۶ کالو وي. کله چې یوه نجلۍ کوژده کېږدي د هلک خوا د نجلۍ مور او پلار ته له ۵۰۰ روپیو تر ۲۰۰۰ روپیو پورې ورکوي. د اسحاقزیو په منځ کې دا پیسې توپیر لري د هغوی په منځ کې له ۱۰۰۰ تر ۵۰۰۰ روپیو پورې دي. د دوی په منځ کې د پیسو د ورکړې په هکله هیڅ ډول لیکلی سند نـۀ لیکل کېږي او دا ټول د شهودو (شاهد) د تصدیق پر بنسټ کېږي.

تولیدات، سوداګري، مالیات او نور:
ځمکه په پینځو ډولونو ویشل سوې ده: لومړی: دو آبه، د سیندونو د غاړو ځمکې؛ دویم: آبي، چې د کانالونو له لارو خړوبېږي، دریم: ځمکې چې د اوبو د چینو له لارو خړوبېږي، څلورم: کاناتي، چې د کاریزونو له لارو اوبـۀ کېږي او پینځم: دایمه یا خـُشک آبه، چې یوازې د باران په اوبو پورې تړلې دي. دا باید وویل سي چې د پینځم ډول ځمکو بڼه ډېره لږ ده.
غنم، وربشې، جوار، مشنګ، مالوچ او تنباکو پریمانه کرل کېږي او وریجې په لږه اندازه. هر ډول ترکاري باب بیخي پریمانه کرل کېږي- ختکي، هندواني، ګازرې او نور هم کرل کېږي. همدا شان د میوو بیلابیل ډولونه سته لکه توت، زرد آلود، آلو، اینځر، بادام، مني، انار، سنځلي، انګور، او شفتالو. ښورکی یا رشقه، شفتل، ایسبګول «سپیغول»، خواږۀ ولني «بادیان»، سپیلني او نور درملیز بوټي دلته شنـۀ کېږي. دلته ډول ډول ګلان په کثرت شنـۀ کېږي. سون لرګي ډېر لږ دي خو دغـه ؤني دې سیمې کې سته: وله، «پاده – فراتي چنار»، شین غزی، «کینجک – د غرنیو پـِستو وني»، «سفیده – سپیدار» او غجره؛ شتر خار، «شنګر»، ترخه، زویل یا زول، او جهوج – ځوز. وابنـۀ کم پیدا دي خو بهوسه او ښورکی یا رشقه پریمانه ده.
دلته یو ډول ځانګړی بوټی دی چې د دې ځای خلک ئـې «اوښ مالګه» بولي او د ځوانو اوښانو لپاره که ئـې وخوري بې حده زهرجن دی. که دا بوټی یو میاشتنی وي او نسبتاً پوخ سوی وي بیا د ناروغی هیڅ ډول بڼه نـۀ ورکوي او ارزښتناک خوراک توکی بلل کېږي.
دلته اوښان او غوایان ډېر زیات دي؛ غواګاني په منځنۍ شمېـر کې ساتل کېږي؛ آسونه کم پیدا دي. پسونه له شماره وتلي ډېـر دي.
اټکل سوی چې د پُشتِ رود اضافي تولید به له ۵۰۰۰۰ مونډو غنمو، ۲۵۰۰۰ وربشو پورته وانـۀ وړي، او د دې ترڅنګ پریمانه بګی، ګاډۍ، اوښان او غوایان دي چې د اړتیا پرمهال ئـې پر غلاتو باندې تبادله کوي. په دې وروستیو کې امیر فرمان ورکړی دی چې په ګرشک کې دې تل ۶۰۰۰۰ مونډه غلات زیرمه وي.
د غلاتو عادي قیمت په لاندې ډول ویل سوی دی :
غنم: له ۱۶ تر ۲۰ سیرو پورې په یوې کندهارۍ روپۍ
وربشې: له ۲۰ تر ۳۰ سیرو پورې په یوې کندهارۍ روپۍ
زیړ غوړي: یوه کندهارۍ روپۍ (یادونه: د غوړیو وزن په متن کې نـۀ دی ویل سوی – ژ)
ښځي نیمځي، جوالونه، خورجیني، ګلیمونه او کـَـوسۍ جوړوي.
واردات: کالي، نیل، بوره او چای له کویټې او کندهار څخه راوړل کېږي، مالګه د کندهار له بند تیمور څخه او آسونه په کندهار کې له دیراوت څخه.
صادرات: د پسونو، وړیو، زیړو غوړیو او زیرې صادرات کویټې او کندهار ته کېږي؛ مالوچ او تنباکو غوراتو ته صادرېږي، وریښم او د اوښانو وړۍ بیرجند او انار درې ته لـېږل کېږي.
مرغان او ژوي: دلته په دې سیمې د مرغانو ډېر بېلا بېل ډولونه نـۀ سته. د اوبو مرغان په ځانګړو فصلونو کې ډېر وي، زرکان او مړزان هم پریمانه دي. اوریال یا ګډ پسه (قوچ) یوازینی ښکرور څاروي دي چې دغو غرونو کې پېژندل سوي دی. کلیوال د سپیانو ساتلو ته لیواله دي او یو ډول خړ سپیان لري چې د افغانستان په سویل کې شهرت لري.
مالیات: د ځمکې مالیات د هرې قلبې د اتو جریبو (هر جریب ۱۰۰ یارډ مربع) پر سر ۶۰ روپۍ ده. د اوبو د هرې ژرندې پر سر مالیه ۱۵ روپۍ ده. د ۲۸ – ۴ – ۰ مالیه د پسونو او وزو په څښتنانو ایښودل سوې ده. د دې ترڅنګ نور مالیات په لاندې ډول ایښودل سوي دي:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د وګړو د شمېر په هکله لاندیني معلومات د یوسف شریف او صاحبداد خان د راپورونو له مخې اخیستل سوي دي: لومړی جدول د یوسف شریف

	ادو زي	پوپلزي	ساکو	خوګیانی	اشکزي	الیزي	محمدزي	الکوزي	ځرګند	بارکزي	نورزي	اسحاقزي	سید	بلوچ	کاکړ	سپني	مُغل	زوري	مالکي	بَروتی	هزاره	توتیال	رګي سپاحان	لویه مجموعه
باغران						۱۰۰۰							۸۰	۲۰	۷۵	۵۰	۲۴۰		۸۰	۵۵۶	۸۰۰	۲۹۰۰	۲۰۰۰	۴۹۰۰
باغني						۶۰۰		۴۷۵							۷۵	۵۰	۴۰		۶۰			۱۳۰۰	۵۰۰	۱۸۰۰
خوناي											۵۰۰	۳۰۰							۱۰۰			۹۰۰	۴۰۰	۱۳۰۰
زمینداور						۴۳۶۰		۲۰۰		۲۰۰	۵۰۰	۴۷۰	۲۰			۵۰	۲۰۰	۱۵۰	۲۵۰			۶۴۰۰	۴۸۰۰	۱۱۲۰۰
موسی کلا		۲۶۰			۲۱۰	۴۳۵۰				۱۰۰			۳۰				۵۰	۵۰	۱۰۰			۵۱۵۰	۴۰۰۰	۹۱۵۰
نوزاد		۳۴۰			۲۴۰	۶۰۰		۷۷۵	۱۶۰	۹۲۰	۱۱۴۵	۱۷۰۰	۳۰۰						۲۰۰			۶۲۰۰	۸۰۰۰	۱۴۲۰۰
ځاروان کلا					۱۰۰		۷۵۰				۳۰۰											۱۱۵۰	۶۰۰	۱۷۵۰
گاز کلا					۱۰					۱۱۰		۲۳۳۰	۱۰				۴۰					۲۵۰۰	۳۰۰۰	۵۵۰۰
چغرک			۱۱۰	۱۰۰							۲۰۰	۵۶۰	۱۷۰		۳۰							۱۲۰۰	۶۰۰	۱۸۰۰
گرشک		۲۰۰			۲۰۰		۵۰۰		۵۵	۲۷۶۰	۴۰۰		۶۵	۱۰۰								۴۳۰۰	۲۵۰۰	۶۸۰۰
واشیر			۵۰			۴۰					۴۵۰		۱۰									۵۵۰	۴۵۰	۱۰۰۰
گرمسیل	۱۱۰۰	۱۵۰								۲۰۰	۲۰۰۰	۲۰۰۰	۵۰	۵۲۰	۱۵۰	۱۵۰	۵۷۰	۲۰۰	۷۹۰	۵۵۶		۶۰۸۰	۷۰۰۰	۱۳۰۸۰
توتیال	۱۱۰۰	۹۵۰	۱۶۰	۱۰۰	۷۶۰	۱۰۹۵۰	۵۰۰	۲۲۰۰	۲۱۵	۴۴۹۰	۵۵۵۵	۷۲۷۰	۲۱۵	۶۷۰	۱۵۰	۱۵۰						۳۸۶۳۱	۳۳۸۵۰	۷۲۴۸۱

		Rs.	As.	P.
د کور پر سر مالیه	سرخانګي	۴	۰	۰
اوښ		۰	۱۳	۰
د غوا (پر هر سر)		۰	۳	۰
رنګریز	هټۍ	۱۲	۰	۰
اوبدونکي / نساج		۰	۲	۸
د هر مجرد سړي پر سر سرانه مالیه		۲	۰	۰

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

درانیان د سرخانګي او د غواګانو د مالیې له ورکړې معاف دي. پښ او ترکان مالیات نـۀ ورکوي خو د مالیې پر ځای دوی هر کله که اړتیا پیښه سي نو د دولت لپاره کار کوي.
د ځمکې مجموعي عاید او مالیات هماغسې چې پورته ورته نغوته وسوه تر ۴۵۰۰۰۰ روپیو پورې رسیږي. د دې تر څنګ د ۳۵۰۰۰ روپیو مجموعي شمیره د مالیاتو لپاره له قراردادیانو تر لاسه کیږي او ټوله مجموعي شمیره د ۴۸۵۰۰۰ روپۍ جوړوي.
پخوا به ډیره ګرانه وه چې له پُشتِ رودِ څخه دې مالیه راټوله کړای سي په ځانګړې توګه د زمینداور او نوزادو له ولسوالیو څخه؛ خو د امیر عبدالرحمن (خان – ژ) له جلوس وروسته د هغه اقتدار ته په درناوي سره د مالیې راټولول شدیداً تحمیل سوي او اوس دا سیمې خپل مالیات په منظم ډول ورکوي.

نوربیا

اوزان او اندازه اخیستنه :

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک او دویم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ